عبدالغفور لیوال

٢٠٢٢/٠٢/٠٧

# لتاجي، کابل، مینه



کابل
لا وینں دی،
د «کرېشنا» هغه روښانه قدمځای ته نږدې
دنگ آسمايي ته څېرمه
«پښتون» کافي
يا
له «خوشبخت» هوټل نه،
د «لتاجی» د اواز سپینه مرمرينه جادو
لکه چینه بهيږي،
رنه، رنه بهيږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

په پل باغ عمومي کې يو مېين خپلې نجلۍ ته ولاړ
چې پوهنتون نه په «اشتن سروېس» کې راشي
او بیا
د خپل زلمي په بيتلي وينتو نظر وټومبي
«ديموکراسۍ ديوال» ولاړ دی،
پرې کتار، کتار دي اينښي کتابونه د زلمي ترڅنګه
له مخامخ هوټله غږ لا د لتا راځي:
(عجيب داستان هی يې...
کها شروع کها ختم...)
لکه چې بيا،
«کرېشنا» راغلی «اسمايی» ته او ډېره د «تهاکر» مينځي په سپينو شيدو
او «جوی شير» غوړ نيولی،
لتا سندرې وايي
بيتل زلمی ولاړ دی
اشتن سروېس له پوهنتونه راځي
ديموکراسي ديوال ولاړ دی او باد
د کتابونو پاڼې ورو ـ ورو خوځوي د لتاجي اواز ته:
(عجيب داستان هی يې
کها شروع کها ختم...)
کابل د مينې تاوده لمر ته ويښ دی.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ